PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرله پسې ګڼه «۲۳۱» اوم کال «۳۳» ګڼه
دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دعقرب «۲۰» د ۱۴۱۲ هـ ق
کال جمادی الاول «۵» اود ۱۹۹۱ میلادی کال دنومبره ۱۱

ولسوالی دولت آباد ولایت بلخ توسط مجاهدین فتح گردید

به اساس گزارش آژانس خبري (میدیا) ولسوالي دولت آباد ولایت بلخ در نزدیکي روسیه بتاریخ (۸) توامبر طي حمله، مجاهدین فتح شد.

طبق گزارش مقادیرزیاداسلحه سبك وسنگین ازجمله (٤) میل توپ (۷٦) ملي متري (۱۱) عراده تانك ، دومیل دافع هوا ،(٦) عراده لاري (۳) عراده جیپ ،پنج میل هاوان وسط ، زیکویك ده پایه ،(۶۰)میل راکت آر،پي ، جي هفت ازین ولسوالي به غنیمت گرفته شده است.

همچنان دراین عملیات عبدالقدوس قوماندان کندك سرحدي ،ضابط پنجي قوماندان خاد ، دین محمد قوماندان څارندوي ومسعودخان قوماندان ملیشه و تعداد زیادي به اسارت مجاهدین درآمده است.

صفحه ٤

په وردګوکې دمزدور رژیم دوه پوستې فتح شوی

وردګو ولایت نه میډیا ته د رسیدلو رپوټونو له مخې مجاهدینو د نومبر په څلورمه نیټه ددغه ولایت د مرکز ، میدان ښار ، سره نژدې د و سفید خاك ، د سیمې پرپوستو بولې بریالي عملیات ترسره کړل ، چې دهغه په نتیجه کې د کابل د ملحد رژیم دوه پوستې فتح ، (۱٦) تنه عسکر اوملیشه مړه ، یوشمیر ټپیان او (۸) تنه نورئې ژوندي نیول شویدي.

رپوټ زیاتوي چې مجاهدینو د کابل رژیم قواوته پرمالي اوځاني تاوانونو رسولو سر بیره د رژیم له قواوُنه (۱۰۰) میله ډول ډول درندي اوسپکي وسلې د یوي اندازي مهماتو اولوژستیکي موادو سره د غنیمت په توګه ترلاسه کړي دي.

په رپوټ کې د مجاهدینو د تلفاتو په هکله څه ندي ویل شوي.

دجهادپه تاریخ کښې توره پاڼه

البنیان خبری آژانس - دنومبر ۸ :
دافغانستان داسلامی اتحاد امیر اودمجاهدینو دعبوری حکومت صدراعظم پوهاند عبدرب الرسول سیاف مسکوته دمجاهدینو دګډینو مشرانو دسفر په باب دافغانستان څخه دا پیغام را استولی دی :

نن چه دمجاهدینو په نامه یوهیئت مسکوته روان دی اوداسلام اودافغان ولس اودبشریت ددښمنانو دکور خواته خوځېږي داد جهاد دپت اوعزت نه ډك تاریخ کښې یوه توره پاڼه ده .

الله عالم دی چه مونږ ډیر کوشش وکړ چې ورونه پدې قانع کړو چه لدي اقدام څخه صرف نظر وکړی خوهغو زمونږ ونه منله اوپه خپل تصمیم بې ټینګار وکړ زمونږدا ورونه غلط شوی دی له الله جلت عظمته څخه ورته هدایت غواړم .

داجهاد مونږ داسلام په ولولو اوجذبو داسلامی نظام دقایملو پخاطر روان کړی دی - او اسلامی نظام په مسکو کښې نه پیداکیږی اوله مسکو څخه لاس ته نه راځی ځکه چه مسکو دځمکی پرمخ دبیدینی اوالحاد لویه اډه ده،دمسکو له خلکو سره دملك په آینده خبری کول زمونږ دآزاد مسلمان ولس په مخ چې د اسلامی آزادۍد پاره یې شپاړس لکه شهیدان ورکړی یوه توره لکه ایښودل دی اواسلام هیڅکله هم مونږ ته ددې اجازه نه راکوی چې دخپل آینده نظام اوژوند خبرې دښمنانو سره شریکی کړو اویادهغوې توافق اورضا پکښې رعایت کړو .

الله جلت عظمته فرمایلی دی ولن یجعل الله للکافرین علی المسلمین سبیلاً .

اوزمونږدوستان اوبالخاصه ګاونډیان دې پدې پوه شی چه په افغانستان کښې دمجاهدینونه په غیر هرحکومت چه راځی هغه به ځان دروس اوامریکی تراحسان لاندی بولی اودهغوې په لمسون به هم دافغانستان اوهم دګاونډیو هیوادونو اوهم دټولی منطقی دپاره لوی مصیبت جوړکړی .

ددغه جنګډېده اوپه جګړوکښې روږل شوی ولس اداره اوسم کنټرول او داسلامی امت په ګټه سمه رهبری یوازې اویوازې مجاهد اومسلمان حکومت کولای شی اویس اوزمونږ دوستان دې پدې پوه شی چې دا ولس اوس یوه لوڅه توره ده اود ایجنټو اواسلام دښمنو حکومتونو په لاس کښې باید ونه لوېږی اوکه نه لوی غمونه به ورڅخه راولاړشی . اوبله خبره مې دجهاد دوستانو اودافغان مسلمان ولس مسلمانوګاونډیوته داده چه دنیا چې زمونږد ولس په هکله هرنظر لري هغه به لري اوپه تاسویه هم بین المللی دباو اوفشار زیات وي خو پام وکړۍ چې دا مجاهدین کوم چې دیارلس کاله مو ډیر تکلیفونه ورسره لیدلی دی خپه درڅخه ولاړ نشی - ځکه چې ټول دښمنان پدی هڅه کښې دی چې مجاهدین درڅخه خپه ولاړشی . اوالله پوهیږی چې مونږنه غواړو چه دمجاهدینو اوددوی دمسلمانودوستانو ترمینځ خپګان اولیرې والی پیدا شی .

اوپه پای کښې ټولو مخلصومسلمانانو ته واړ ورکوم چې په افغانستان کښې پرته دمجاهدینو له حکومت نه اودمجاهدینو په لاس جوړشوی حکومت نه دبل هیڅ نظام دپاره دجوړیدو امکانات نه برابریږی .

که زمونږدښمنان دنړیوالو په سترګوکښې دلویو قوتونوخاوندان ښکاری - خوېدې حقیقت باید ټول پوه شی چې هغه خدای «ج» چې مونږ دهغه دنوم داوچتولو پخاطر جهاد کوو ترټولو لوی اوترټولو قوی اوغالب دی .

(عبدرب الرسول - سیاف)

د هرات په ولایت کښې ددښمن (۵۰) تنه عسکر اوملیشه ووژل شول

مجاهدینو د نومبر په شپږمه دورځې په لسو بجو پدغه ولایت کې دزنده جان د ولسوالي په لویدیځه ، ختیځه او شمالي کمربندي پوستو او پوځي مرکزونو د درندو او سپکو وسلو څخه په استفادي سره بولې بریالي عملیات ترسره کړل چې دهغې په نتیجه کې د کابل د کمونیست رژیم یوشمیر پوځي ځالي ویجاړې ، یوشمیر نورئې فتح،(۵۰) تنه عسکر،صاحب منصبان او ملیشه مړه او ټپیان شوي چې مړي

٤ مخ

په ګردیز کې د حق اوباطل ترمینځ جګړه دوام لري

مجاهدینو په ګردیز کې د نویو بریالیتوبونوپه ترڅ کې د ګیلم جم ملیشه ژ دوه ښاري کمربندي پوستې فتح کړي او یوشمیر ملیشه ئې د (۳۵) میله وسلو سره بندیان نیولي دي .

په پیښور کې یو جهادي خبرځاي د پکتیا ولایت نه (میډیا) ته رپوټ ورکړ چې مجاهدینو د کابل رژیم د پکتیا ولایت مرکز د ګردیز د کلابند شوي ښار په شمال ختیځ امنیتي کمربند د ملیشه ژ پوستو باندي د نومبر په څلورمه ورځ د درندو وسلو

٤ مخ

هیئتی از رهبران مجاهدین رهسپار مسکو گردید

به اساس گزارش رادیو بی ، بی ، سي

هیئتي ازرهبران مجاهدین براي گفتگو بامقامات شوروي رهسپار مسکو گردید .

هیئت مجاهدین تحت ریاست برهان الدین «رباني » غرض ملاقات ومذاکره بارهبران روسیه عازم آنکشور میگردد.

درهیئت مجاهدین مولوي محمد نبي « محمدی» ، حشمت الله « مجددي » ، قاضي محمد أمین « وقاد» ، آیت الله محسني و اسیدحامد « ګیلاني » بحیث اعضا ، شامل اند لازم به یاد آوري است که سه تنظیم مجاهدین ، اتحاد اسلامي افغانستان ، حزب اسلامي افغانستان وحزب اسلامي « مولوي صاحب خالص » قبلاً این سفر را تحریم نموده بود .

صفحه ٤

منشی عمومی ناتو از رشد بنیاد گرایی اسلامی در هراس است

مانفرد وارنر منشي عمومي پیمان اتلانتیك شمالي ناتو نسبت به خطر گسترش بنیاد گرائي اسلامي به اعضاي این پیمان هشدار داد .

وي که بتاریخ ۲۱ اکتوبر درمجمع پارلماني اعضاي ناتو درمادرید سخن مي گفت ، تاکید کرد : با ناپدید شدن دشمن درشرق اکنون خطراتي همانند بنیاد گرائي اسلامي روبروي ناتو

صفحه ٤

په بابری جومات دهندوانو حملي دنړی دمسلمانانو احساسات راپارولي دي

پوهاند سیاف

دالبنیان دخبري آژانس د رپوټ له مخي دافغانستان داسلامي اتحاد امیر او دعبوري اسلامي حکومت صدراعظم پوهاند سیاف په ایودیا کښې په بابري جومات دهندو افراطیونو حمله یو ناروا ظلم او داسلام او مسلمانانو پرخلاف دهندوانو تعصب اوتنګ نظري ګڼلي ده.

پوهاند سیاف دبابري جومات دپړنګ دیوال دورانولو دخبر په هکله دخپلو تأثراتو دڅرګندولو په ترځ کښي وویل: دهندوانو دي ناروا ظلم دټولي نړۍ دمسلمانانو زړونه خپه کړي اودهغوي احساسات یي راپارولي دي . پوهاند سیاف زیاته کړه : دهندوانو له دي حملي نه دهند د سیکولریزم ماهیت څرګند شو اودادغه سیکولرلیستي هیواد له پاره یوغټ شرم دي .

پوهاند سیاف داسلامي هیوادونو له کنفرانس اوملګرو ملتونو څخه وغوښتل چې دهندوانو ددي اقدام پرخلاف دي خپل غبرګونه پورته کړي . له دینه علاوه دادهند دحکومت قانوني وظیفه ده چې دمسلمانانو دعبادت دځایونو ساتنه وکړي .

سازمان جاسوسی اسرائیل درتوطئه های داخلی سریلانکا دخالت دارد

« اوزه » وزیر مشاور درامور مسلمانان سریلانکا طي مصاحبه اي گفته است که صهیونیزم بین المللي درتوطئه هاي داخلي این کشور براي ضربه زدن به نظام سیاسي سریلانکا دخالت دارد .

وي دراین مصاحبه پیرامون طرح استیضاح پریماداسا رئیس جمهور سریلانکا گفت : استیضاح رئیس جمهورسریلانکا باشکست روبروشد واین طرح عمدتاً ازسوي صهیونیزم بین المللي وموساد سازماندهي شده بود زیرا وي درسال گذشته در یك تصمیم

صفحه ٤

درجمهوری کرواسی یوگوسلاویا جنگ هاي شدید ادامه دارد

بلګراد - ۱۹ عقرب

درجمهوري کرواتیا یوګوسلاویا نبردها همچنان ادامه دارد وگزارشهاي حاکیست که شهر اوکووار وبندر دیبرونیك باردیگر هدف حمله نیروهاي مسلح فدرال یوگوسلاویا قرارگرفته اند

رادیو کرواتي دراین زمینه میگوید : دراین حملات چهار نفر کشته ودرحدود بیست نفر دیگر مجروح شدند . این رادیو حملات اردوي فدرال رابه بندر دیبرونیك فاجعه بار خواند وگفت : مقامات کرواتي فرمان بسیج عمومي افراد ذکور این

صفحه ٤

گرایش بیشتر انجمن هاي ترکی آلمان به اسلام

فرانکفورت - رادیو آلمان

انجمن هاي اسلامي ترکي درجمهوریت اتحادي المان درجریان دوسال اخیر گرایش بیشتري به اجراي احکام اسلامي ازخود نشان میدهند .این مطلب طي تحقیقي که در زمینه توسط انجمن مرکزي آرشیف اسلامي درجمهوریت اتحادي آلمان صورت گرفته وچند روز قبل به شوراي آلماني اسلامي شهر فرانکفورت سپرده شده است روشن وواضح میگردد.

د «الفتح» ګوند یوځل بیا په سوریې کښې خپل دفترونه پرانستل

دمشق - دعقرب ۱۸

دسوریې حکومت دفلسطین دآزادي بښونکي سازمان د « الفتح » په نوم لوې ډلې ته یوځل بیا اجازه ورکړې وه چې په دمشق کښې خپل دري دفترونه له سره پرانیزي . دغه دفترونه په ۱۹۸۳ کال کښې کله چې دنوموړي ډلې اوسوریې ترمینځ روابط خراب شول وتړل شول .

د بي - بي - سي خبریال له تونس نه رپوټ ورکوي چې په دي وروستیو څو اونیو کښې دیاسر عرفات او دسوریې دمشر تابه ترمینځ اړیکي دښه کیدو په حال کښې دي . دري اوني پخوا یاسر عرفات د ۱۹۸۸ کال راهیسي دلومړي ځل له پاره سوریې ته سفر وکړ . ددي سفر نه وروسته ، څو ورځې مخکښې بیا یاسرعرفات دمشق ته ولاړ . دټولو هغو عربي

٤ مخ

اولین دسته از واحدهاي حافظ صلح ملل متحد وارد کمبودیا شد

پنوپن - ۱۹ عقرب

اولین دسته ازواحد هاي محافظ صلح ملل متحد پس از ۹ انفجار وگزارش اختلافات سیاسي بین جناح هاي سیاسي وارد کمبودیا شده است .

به اساس گزارش صداي امریکا حین ورود این دسته ازواحد هاي محافظ صلح ملل متحد عطا ، الله کریم دیپلومات بنگله دیشي اظهار داشت : او وظیفه ، اولي ماموریت ملل متحد را دراین میداند که ازتجدید تصادم جنگي جلوگیري نماید .

به قرار گزارش شهزاده نوردوم سهانوك رئیس شوراي عالي ملي مؤقت ازتمام جناح هاي متخاصم خواسته است تا ازمعاهده صلح که ماه گذشته درپاریس به امضاء رسید رعایت کنند.

په روسیه کې د الوتکی د راغورځیدو له کبله ۳٤ تنه په هلاکت ورسیدل

ورځپاڼه پاکستان د نوامبر (۹)

مسکو (پ پ ۱)

دروسیې دهوائي قواؤیوه باروړونکي الوتکه چې د روسیې د جنوب د ایلسټ د ښار څخه د آذربایجان په لور روانه وه د قفقاز د غره په لمنو کښې غورځیدلې او بیخي له مینځه تللي ده.

د رارسیدلو خبرونو په اساس ویل کیږي چې: په الوتکه کښې سپاره (۳٤) تنه سپرلۍ هم وژل شوي دي.

٤ مخ

د جلال اباد په شاوخواسیمو باندې دکابل دمزدوررژیم د بمبارۍ په نتیجه کې پنځه تنه شهیدان او٤٥ تنه نورټپیان شول

ننګرهار ولایت څخه پیښور ته راغلي عیني شاهدانو د نومبر په (۷) نیټه میډیاته رپوټ ورکړ چې د کابل رژیم جیټ الوتکو د جلال آباد ښار په جنوب د چپرهار علاقه داري ډاګو ، شولاني او هیډیا خیلو اوهم فارم غازي آباد اود شینوارو د ولسوالي په کلو او آزادو سیمو باندي د نومبر په٦ او ۷ نیټه په ګرنیټي بمونو ورولوسره څلور ځلې اودري تنه سپین ږیري په خپلو کورونوکي په شهادت رسولي اوهم ئې د بزګرانو د استوګنې یو زیات شمیر جونګړي د خاورو سره خاوري کړیدي .

د عیني شاهدانو په قول د مزدور رژیم ددغې وحشیانه بمبارۍ په نتیجه کې چې د کمونیستي رژیم الوتکو د مجاهدینو څخه د غچ اخیستلو لپاره په بې وزلو خلکو ترسره کړی دوګړو ورځني ژوند اوکار وبار معطل شوي اوخلك د خوراکي موادو اوخښاك د پیداکولو د مشکلاتو سره مخامخ شویدي .

د (میډیا) خبریال د باوري خبرځاي په حواله زیاتوي چې د رژیم د الوتکو دغه بمباري چې د مجاهدینو د نومبر د پنځمې نیټې د تعرضي حملي

٤ مخ

هفته‌نامه

اتحاد اسلامی

بیانګر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

دامتیاز خاوند : د افغانستان اسلامی اتحاد

د تأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال د عقرب میاشت

خپرونکې اداره : د دعوت اوارشاد فرهنګي څانګه

سرمقاله

آغازمیکنم به نام خداوند بخشاینده ومهربان

قضیهٔ فلسطین وخیانت تاریخي سران عرب

استعمار جهاني ودرآس روس وامریکا و انګلیس بعد از روي کار آوردن رژیم صهیونیزم درفلسطین زمینه را براي توسعه طلبي یهود مساعد نموده وباګذشت هر روز انبوهي ازمصیبت ها دامنګیر امت اسلامي وبخصوص مسلمانان شرق میانه مي ګردد .

یهودیان که ازقرنها به این طرف درګوشه وکنار جهان سرګشته وحیران مي ګشتند وشروفساد را در روي زمین پخش مي کردند باالاخره بهمدستي امریکا وصحنه سازي انګلیس ومساعدت روسها زمام امور سیاسي را درسرزمین فلسطین عهده دار ګردیده وساکنین این سرزمین مقدس راکه باشندګان اصلي این خاك بودند در آتش وخون انداخته وآبرو وحیثیت انساني واسلامي شان را زیر پاګذاشته وبه فجیعترین صورتي آنها را ازکشورشان آواره ساختند ، درچنین فرصتي مسلمانان آګاه وبیدار بادرك حقانیت قضیهٔ مسلمانان فلسطین نفیر جهاد را به راه انداختند ، وبرچم آزادي خواهي ومبارزه علیه اشغالګران را درین سرزمین بر افراشتند . درپیشاپیش این قیام دلیرانه جنبش اخوان المسلمین که تازه درعرصهٔ فعالیت هاي سیاسي وروشنګري ملتهاي مظلوم قدم ګذاشته بود قرارداشت ، وامام حسن البناء شهید خود شخصاً قیادت ورهبري این جهاد مبارك را بدوش ګرفته وبا اخلاص کامل واعتماد وتوکل به کمك وباري خداوند سنګر هاي مستحکم را دربرابر نیروهاي اشغالګران بازکرد ، مقاومت وپایمردي نهضت اخوان المسلمین درمقابله بانیروي دشمن ، احساس عجیبي از رعب وترس درروحیهٔ عساکر اسرائیلي وهم پیمانانش ایجاد نمود ، بطوریکه کتائب ودسته هاي ایثارګر اخوان المسلمین بخاطر حصول رضاي خداوند بدون ترس وهراس داخل خطرناکترین سنګر هاي دشمن ګردیده ودر نتیجه سنګرهاي مستحکم آنان راکه هرګز راهیابي مجاهدین را درآن تصورنمي کردند فتح نمودند ، ملاحظه این حالت پیام آور یأس وناامیدي در روحیهٔ دشمن درمنطقه بود ، بطوریکه آینده خود را باوجود این عناصر فداکار وایثار ګر درسرزمین فلسطین دور ازامکان دانسته وتلاش براي بازماندن درین خاك را یك تلاش مذبوحانه خواندند ، بناءً دشمن جهت رهائي ازین خطر بزرګ ، وبراي درهم کوبیدن عناصر با ایمان ومخلص به جستجوي راه هاي چاره افتادند ، تادفع خطر قبل از وقوع آن نمایند ، لذا براي رسیدن به چنین هدفي شوم ونامقدس همه سعي وکوشش خود را بدان نکته تمرکز بخشیدند تا به هروسیلهٔ ممکن سران این کشور هاي راکه مجاهدین ازان رضاکارانه درجهاد فلسطین شرکت مي نمودند قانع سازند تا مطابق به میل خویش درسرکوبي مجاهدین سهم ګیرند. روي این منظور جمال عبدالناصر رئیس جمهور وقت مصر را براي این کارمناسب یافتند، واورا وظیفه دادند تا به هر وسیله که امکان داشته باشد نهضت اخوان المسلمن را درین سرزمین سرکوب سازد ، جمال عبدالناصر بنابر دستور یهود ازیکطرف با درګیري مصر با اسرائیل قواي نظامي مصر را در معرض مرګ ونابودي حتمي قرارداد وهزاران تن عساکر مصري را که فاقد سلاح هاي پیشرفته جنګي بود درصحراي خشك وسوزان سیناء دربرابر قواي اسرائیل که از امکانیات پیشرفتهٔ برخور دار بود سنګر داد ، وبدون آنکه قدمي درجهت پیشروي بردارد همه شکست خورده ومجروح عقب نشیني نمودند ، وهزاران تن از نیروهاي زمیني مصر توسط قواي هوائي اسرائیل بخاك وخون کشانده شد .

وازسوي دیګر جمال عبدالناصر به دستګیري وزنداني ساختن دسته هاي مجاهدین که درنبرد ضد یهود درفلسطین شرکت نموده بودند اقدام نمود ، بطوریکه هزاران تن آنها راکه مؤفقانه ازجبهات برګشته بودند به زندانها انداخت وعدهٔ راه به جوقه اعدام سپرد ، وجمعي را به پاي محاکمه وتفتیش کشاند وچنان باقسوت وسنګدلي دربرابر این مجاهدین پاك طینت رفتار نمود که تاریخ درعصر حاضر نمونهٔ ازین قساوت وبي رحمي را بیاد ندارد .

بانګرش کوتاهي به مبارزه وقیام مسلمانان درین سرزمین ، برمي ګردیم : وضع کنوني فلسطیني ها وقیادت هاي نادرست آن که خود را در عرصهٔ بین المللي مدافع ملت فلسطین قلمداد مي کنند ، بعد ازآن تاریخ سازمان آزادي فلسطین من حیث یګانه سازمان رسمي که ازداعیهٔ فلسطین درمحافل ومجامع بین المللي دفاع کند شناخته شد ، واین سازمان تحت قیادت ورهبري یاسر عرفات تبارز نمود . تامبرده به عوض اینکه اصول وپرنسیب هاي اسلامي را دراعادهٔ حقوق مغصوبه ملت خویش رعایت نماید سر ازقصر کرملین بدر آورد وخود را غلام حلقه بګوش وچاکر خوش خدمت آنها ساخت، وازآن روزګار به بعد قضیهٔ مردم فلسطین در پشت میز مذاکرات مسکو وسازمان ملل رهبري وتوجیه ګردید ، تا آنکه سرانجام ملت مبارز فلسطین ، از ګروهاي چپ ګرا برائت خود را اعلان داشته ، وخود بادست خالي به مبارزه وجهاد علیه نیروهاي اشغالګر اسرائیلي پرداخت ، واز توسل جستن به شرق وغرب خود داري نموده وحرکت حماس راکه قیادت وزعامت آن را احمد یاسین بعهده داشت بوجود آوردند ، این نهضت که با اراده قوي وایمان کامل بخدا بناء یافته بود توانست درمدت زماني لرزه براندام نیروهاي اسرائیل افګند ، وبرچم افرازان ومشعل داران این راه همانا پسر بچه هاي سنګ بدست که عمرشانبطور متوسط از ده سال تجاوز نمي کرد تشکیل میداد - این نوجوانان باچوب وسنګ برتجمعات نیروهاي اسلامي با عملیات فدائي ګري که ازخود نشان دادند توانستند خواب را بردیدګان یهود ومزدوران آنها حرام سازند، وباګذشت هرسال بر میزان عملیات آنها افزوده مي رفت ، ونهضت حماس درچوکات تعلیمات اسلامي رشد یافت ، تاآنکه استعمارګران شرق وغرب رشد وتکامل نهضت حماس را درسرزمین آشغالي تحمل

دافغانستان دمسلمان ولس سترګي دجهادي مشرانو دیووالي په لور کږې دي

محمد داؤد «بهار»

داڅرګند حقیقت دي چې دافغانستان دمسلمانانو جهادي څپېږي نه یوازې د نړې په نورو وچو کي دکمونیزم او الحاد پرضد دخلکو احساسات راوپارول بلکې په روسیه کې یې هم هغه ولسونه چې تېرونه یې په غاړوکي دروسانو دغلامي ځنځیرونه پراته وو دي ته را بیدار کړل چې خپلې آزادي له روسانو واخلي او دآزادو ولسونو په شان پټمن ژوند وکړي چې ددې خبرو ښه ثبوت دبالتیك او مرکزي آسیا دجمهوریتونو دتویو خپلواکیو لاس ته راوړل کیداي شي .

هو ! دافغاني مسلمانانو جهادي پاڅون نه یوازې دنړې محکومو ولسونو ته دآزادي درسونه ورکړل بلکې ټول نړیوال یې پدې وپوهول چې دکمونیزم شعارونه یوازې خبري دي نه عمل چې مارکس !! او لنین !! دکاغذ پرمخ لیکلي وي او مظلوم ولسونه یې دکمونیزم دخیالي جنت په هیله تېرېرون پوري پټي سترګي ساتلي وو ، خو چې کله افغاني مسلمانانو دکمونستانو له جنایاتو پرده لیرې کړه او نړیوالو ته یې د هغوي وکمونستانو اصلي څېره ونیودله بیا نو هرچا ولیدل چې په نړیواله سطحه دکمونیزم الحادي دیوالونه داسي ونړېدل چې یځپله روسانو !! دمارکس !! اولنین !! دبتانو په غاړو کي پړي واچول او دروسیې په ښارونو او کوڅو کي یې داسي راکش کړل چې داخلي او خارجي سیلانیانو یې ننداري کولې ، خو په کمونستانو کي ددې وس نه وو چې دمارکس !! لنین !! له هغو بتانو چې پرون یې ورته سجدې کولې دفاع وکړي .

هو ! دي کار په هلته ښه څوند کړي واي چې نن مارکس اولنین !! ژوندي واي اوخپل جنایات یې په خپلو سترګو لیدلي واي او روسي ملت دمحاسبي دګر ته داسي کش کړي واي لکه چې نن یې بتان کشوي اوکوچنیان پري لوبي کوي ، خو دهغه چا خبره چې ویلي یې دي « مرګ شرم پوښ وي » ، واقعیت لري اوهغه ځکه چې نن نو دمارکس ، لنین ، ستالین ، برژنف او دروسي مشرانو لپاره مرګ شرم پوښ ګرځیدلي او له خپلو قبرونو نه سرونه نشي راپورته کولي تر څو خپل جنایات اوخیانتونه په خپلو سترګو وګوري او دروسي خلك ورسره محاسبه وکړي .

په اروپا کي هم دافغانانو مقدس جهاد داسي تحولات رامینځ ته کړل چې دهغو په نتیجه کي د وارسا تړون دابد لپاره داسي منحل شو چې بیا به یې څوك نوم هم په خوله وانخلي اوهغه ځکه چې لدي کمونستي دولتونو نه څوك داسي ښه خاطرات نه لري چې بیاورته په ښه سترګه وګوري او بیاسي ددوهم ځل لپاره پلاتونوته دعمل جامه وروااغوندي .

اوس نو دپورته موضوعاتو په باب داپوښتنه پیداکیږي چې دافغانانو دجهادي پاڅون دبرکته په سیمه اونړې کي داسي تحولات رامینځ ته شول چې دهغو په نتیجه کي دنړې نقشه بوځل بیا بدله شوه اومحکوم ولسونه یا خو دآزادي مرحلي ته رسیدلي او یا خو دآزادي په درشل کي ولاړ ښکاري ولي دافغانستان مظلوم ولس خپل هغه آرمان چې په افغانستان کي دیوه اسلامي دولت رامینځ ته کول دي نه رسیږي ؟ اوپه همدې مقصد (داسلامي دولت دجوړولو په مقصد) لاتراوسه یې شمیره لحاني اومالي قرباني ورکوي اوپه پاکوپښویې دنورو هیوادونو مراوي ګلان تازه کیږي خود خپل هیواد باغونه اوباغچې یې لاتر اوسه دسور کمون په لمبوکي سوزي .

آخر داحال به ترڅو وي ؟ ترڅو به زمونږ مظلوم ولس لدي ناخوالو سره لاس په ګریوان وي ؟ ترڅو به زمونږ په هیواد کي جګړه روانه وي اوکمونستان به دقدرت په ګدي ناست وي ؟ آیا دي ملت قربانۍ ندي ورکړي ؟ ایا ددي ملت مسلمانانو جهادي ندي کړي ؟ ایادي مسلمان ملت دکمونیزم ربړنې له بیخه ندي وشکولي ؟ آیا ددي ملت کورونه ځمکې باغونه او باغچې ندي وراني شوي ؟ آیا ددي مسلمان ملت له پنځه ملیون نه زیات انسانان دنړې ګوټ ګوټ ته مهاجر شوي ندي ؟ آیا له یونیم ملیونه زیات یې شهیدان ندي ورکړي ؟ آیا په لکونو یتیمان یې په بدو شرایطو کي ژوند نه تیروي ؟ آیا په لکونو معیوبین یې فولادي زړونه نه خوروي ؟ آیا په زخمیانو یې روغتونونه ندي ډك شوي ؟ آیا دي مظلوم اوبې دفاع ولس دافغانستان په هرولایت کي روسان اودهغوي لاسپوڅي له ماتو سره ندي مخامخ کړي ؟ آیا همدا افغاني مسلمانانو روسان دي ته مجبور نه کړل چې له هیواده یې ووځي ؟ که پورتنیو سوالونو ته په واقعي توګه ځواب ووایو نو هغه به داوي چې رښتیا افغاني مسلمانانو پورتني افتخارات ګټلي او لا ګټي یې اواوس یې خپلې سترګې دجهادي مشرانو واقعي وحدت ته نیولي ترڅو ددوي (دجهادي مشرانو) په عملي وحدت سره یې هغه آرمان ته چې په افغانستان کي دیوه اسلامي دولت غوښتونکي وو وورسیږي او دا مرام یې په رښتیا هم دجهادي رهبرانو په وحدت کي پروت ښکاري اوهغه ځکه چې دافغانستان مجاهد ملت خپله ایماني او وجداني دنده چې هغه واقعي او اسلامي جهاد ؤ کړي اولاکوي یې اوخپل ټول اختیارات یې جهادي مشرانو ته په لاس ورکړي نو خداي دې وکړي چې زمونږ ټول مشران دځان ځانیو نه تیرشي او دوحدت په لیار قدمونه پورته کړي اوکه خداي مکړه دوحدت پر ځاي دنفاق په لیارو حرکت وکړي بیا به یې نونه یوازې ددې قهرمان ملت ټول جهادي افتخارات په اوبو لاهو کړي وي بلکې هغه غلیم ته به چې نن یې دژوندانه وروستي سلګې وي ددې چانس ورکړي وي چې لدې هم خپلو جنایاتوته دوام ورکړي او زمونږ مسلمان ولس ته دسرونو په کاسو کي داوبو په ځاي نور هم زهر ورکړي .

فلسطین اودنړیوالوکفری ځواکونوناولې توطئې

یادونه : د فلسطین د مسلمان ولس دبرحقې داعیې د ختمولو اود یهودانو دامنیت د تأمینولو له پاره د اکتوبر په ۳۰ نیټه د امریکا په لارښوونه د هسپانیې په پایتخت « مادرید » کښې دمنځني ختیځ په اصطلاح د سولې کنفرانس جوړ شو . په دغه کنفرانس کښې د لومړي ځل له پاره د ټېټو عربي هیوادونو مشرانو اود اسرائیلو صدراعظم « اسحاق شامیر » ګډون وکړ . د مادرید کنفرانس کولای شو د امریکا اود کفري نړۍ د هغو سازشونو یوه کړۍ وبولو چې همدا اوس یې د فلسطین د برحقې داعیې د ختمولو اوپه اسلامي نړۍ کښې د اسلامي خوځښتونو د کمزوري کولو له پاره په کاراچول شوي دي . ددې له پاره چې وکولای شو د فلسطین په هکله د امریکا اونړیوال صهیونیزم توطئې ښې رسوا کړو نو د اتحاد اسلامي د هفته نامې په دې ګڼه کښې لومړي د امریکا ددغې پیشنهاد شوې سولې تاریخي پس منظر څېړو اوپه راتلونکې ګڼه کښې به ددغې قضیې په اړوند په عربي نړۍ باندې دواکمنو مشرانو د بې پروایې اوخیانت عوامل په ګوته کړو .

له هغه وخت راهیسې چې صهیونیستانو د فلسطین په خاوره کښې استقرار پیداکړ د « برغل او تثبیت » استراتیژي یې د خپلو پراختیا غوښتونکو ناوړو اهدافو د تحقق له پاره دیره ښه وسیله وټاکله او د همدې استراتیژي په اساس به اسرائیلي پوځیان ګله ناګله له خپلو پولونه تیریدل اود یوې چټکو عملیاتو په لاره اچولو سره یې ګاونډیو هیوادونو خاورې په خپله ولکه کښې راوستلې . بیا وروسته به یې د یو اوږده مطرح کولو سره په نیول شویو خاورو کښې خپل سیاسي او پوځي موقعیت تثبیت کاوه اود مهاجرمیشتو یهودي ښارونو بنسټ به یې په دغو سیمو کښې کیښوده . وخت داسې عامل ؤ چې ددغو ځمکو اشغال به یې له یوې مودې وروسته د یهودي نړۍ له پاره د منلو وړ اوددغو ځمکو د اوسیدونکو له پاره د تحمل وړګر ځاوه . د نړیوالو اړیکو د قدرت پر بنسټ جوړشوي چوکاټ اسرائیلوته دا قدرت ورکړ چې له یوې خوا د سترو قدرتونو (د دوونړیوالو جګړو په مینځ کښې د انګلستان او د دویمې نړیوالې جګړې نه وروسته تر وروستیو لسیزو پورې د امریکا) د اهدافو د تحقق په لاره کښې حرکت وکړي اوله بلې خوا په بریالیتوب سره له نوموړې ستراتیژۍ نه د عربو اومسلمانانو په مقابل کښې ګټه واخلي . د عربي هیوادونو ، داخلي فساد اود هغوي ترمینځ هر اړخیز ژور اختلاف یوبل عامل ؤ چې د اسرائیلو د برلاسي پروسه یې ځواکمنه کړه . ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو د متارکې د مودې په اوږدولو اود اعرابو د هلو ځلو په راکدولو او پاییزه کولو سره اسرائیلوته دوخت له عامل نه د ګټې اخیستلو له پاره ښه زمینه برابروله .

کوم شرایط چې د ۶۰ لسیزې له وروستیو اود ۷۰ لسیزې له لومړیو نه را په دیخوا په بین المللي اړیکو واکمن شول د اسرائیلو د « برغل او تثبیت » استراتیژۍ یې د سوالونو له علامو سره مخامخ کړه .

۱- د سترو قدرتونو ترمینځ د سړې جګړې پیل ، امریکا او شوروي دې ته اړکړل څو په اروپا اود مستقیمو نښتو له نورو سیمو څخه د مخامخ دښمنیو نه پام واړوي او دریمې نړۍ بالخصوص منځني ختیځ ته متوجه شي . روسیه د اسرائیلو اوعربو له دښمنۍ او اسرائیلو څخه د امریکا ګملاتړ نه په ګټې اخیستلو سره ، دعربو د ملاتړ کوونکې هیواد په توګه په منځني ختیځ کښې د خپل شتون د پراختیا په لټه کښې شوه اوهغه یې تثبیت کړ .

په ۱۹۵۲ میلادي کال کښې د جمال ناصر له کودتا نه وروسته د ۸۰ لسیزې ترپایه پورې زیاترو عربي هیوادونو کمونیستي نړۍ ته زیاته ګروهنه پیداکړې وه چې په خپلو پوځي جوړښتونو کښې به یې د شوروي له وسلو اوکړنلارې نه پیروي کوله او خپلو سیاسي او اقتصادي سازمانونوته به یې هم دکمونیستي نړۍ په څېر بڼه ورکوله .

عراق ، سوریه‌لیبیا ، سودان ، صومالیا او جنوبي یمن ددغه ډول هیوادونو څخه شمیرل کیدل . امریکا چې په منځني ختیځ کښې یې د روسانو د نفوذ پراختیا د خپلو بین المللي اهدافو سره سمه نه ګڼله ، په بیړه سره یې له سیمې څخه د روسانو د لاسونو په لنډولو پیل وکړ . ددغو هلو ځلو دیرمهم بُعد ، د اسرائیلو او اعرابو ترمینځ د موجوده لانجو اوستونزو کمول ؤ . ددغو ستونزو د موجودیت اوله اسرائیلو څخه د امریکا هراړخیز ملاتړ ددې سبب شو چې عربان د روسانو د تکنالوژۍ د لاس ته راوړلو په خاطر د شوروي په لوري مخه وکړي . نوله دې امله امریکا د شوروي د نفوذ د له مینځه وړلو له پاره ، د عربي رژیمونو اواسرائیلو ترمینځ روغه جوړه د منځني ختیځ په هکله د خپل سیاست بنسټ او اساس وټاکه . وروستیو پیلونو په ښکاره توګه د شوروي په طردولو کښې د امریکا سیاست روښانه اوپه ډاګه کړ . شوروي په ډیره لږه موده کښې له صومالیا ، مصر اوسودان څخه طرد او وشړل شو اودغه هیوادونه د غربي نړۍ د دوستو هیوادونو په کتار کښې راغلل . عراق چې د شوروي له سترو ملګرو څخه شمیرل کیده هم بې لورۍ ته ګروهنه پیداکړه .

۲- د یوې وسلې په توګه د تیلو مطرح کیدل : له دویمې نړیوالې جګړې نه وروسته کله چې په غربي هیوادونو کښې صنعت پراختیا ومونده ، تیلو په غربیجي توګه د انرژۍ د نورو ټولو منابعو په پرتله خپل ځانګړي ارزښت ترګند کړ. ددغو کلونو په ترڅ کښې د اروپایي اوجاپان غوندې هیوادونو اقتصاد چې د دویمې نړیوالې جګړې ټول زیانونه یې جبران کړي ؤ ، خامو تیلوته زیاته اړتیا پیداکړه اوپه دې توګه په لومړي پړاو کښې مصرف اوپه دویم پړاو کښې قیمت خپل صعودي سیر او بیا ناڅاپه اړي ګړي اولانځي تجربه کړې اوپه دې توګه د منځني ختیځ سیمې د خامو تیلو زیرمې په توګه د ځواکمنو هیوادونو په بهرني سیاست کښې ډیر مهم مقام وګاټه د ۷۰ میلادي لسیزې په پیل کښې د ټول منځني ختیځ په هیوادونو کښې چې له اسرائیلو څخه یې څو ځوځلي ماتې خوړلې وه ، له تیلو څخه د وسلې په توګه د کار اخیستلو شعار ، اوریدل کیده . عربو په ۱۹۷۳ میلادي کال کښې د تیلو په تحریم سره د لومړي ځل له پاره له دغې وسلې نه کار واخیست . وروسته له دې ګمریانو د آمریکا د متحده ایالاتو په مشرۍ خپلې ټولې هلې ځلې په کار واچولې څو دغه وسله - چې د غربي نړۍ ټول صنعتي ماشین آلات یې هدف نیولي ؤ - بوځل بیا دهغو ګټو ته خطر متوجه نکړي . په دې اساس د عربو او اسرائیلو ترمینځ جګړې کښې د مصالحې فکر مطرح شو اودهغه د عملي کولو له پاره د امریکاڅلوری اغیزمن فعالیتونه په لاره واچول شول .

۳- د عربي هیوادونو مسلح کول : تیل ، یوه داسې زیرمه وه چې زیاتره عربي هیوادونه یې د بې وزلۍ له دوږوته راپورته کړل او بهانتیتوب په لورېې وخوځول . دغې وړیا او بادراوړې شتمنۍ د هغې ډلې عربي هیوادونوله پاره چې زیات نفوس یې درلود د شرقي بلاك په مرسته د یوځواکمن پوځي قدرت د جوړېدو زمینه برابره کړه او په دې ترتیب په سیمه کښې د قدرت موازنه په جدي توګه د عربو په ګټه وڅرخیده . عراق ، سوریې او مصر ستري پوځي قواوې جوړې کړې اوله دغو هیوادونو څخه یوشمیر نور له هغې جملې نه لیبیا د وسلې په یو زیرمتون بدل شول .

۴- د عربي ملتونو ویښتیا : آمریکا دعربو او اسرائیلو د متواترو جګړونه وروسته دې نتیجې ته ورسیده چې ددغو جګړو دوام به د عربي ملتونو ځان پیژندنې ته ګټه ورسوي اودهغوي هغو هلوځلوته چې غواړي د یو واحد عربي هویت آرمان پوره کړي د عمل جامه وروااغوندي چې بالآخره دغه پروسه به په پای کښې د عربي ملتونو په رادیکالیزه کولو اوله صهیونیستانو سره د هغوی د تضاد په زیاتولو منجر شي . د خلکو دغه ډول رادیکالیزه کیدل په غرب پورې دپیلو رژیمونو د سقوط عوامل برابرول اود بریالیتوب په صورت کښې یې کولای شو په جدي توګه د اسرائیلو موجودیت له خطر سره مخامخ کړي . همدا لامل ؤ چې د امریکا د متحده آیالاتو واکمنان په د ی لټه کښې شول څو د عربو او اسرائیلو لانځې د داسې سیاسي ملدرو میزونو په سر د خبرو اترو له لارې حل کړي چې ددغه استعماري هیواد ګټې هم پکښې خوندي وي اود اسرائیلو موجودیت هم تثبیت شي .

آمریکا د خپل دغه هدف د ترلاسه کولو له پاره داسې عربي پلورل شوي رژیمونه استخدام کړل چې له یوې خوا وکولای شي په خپلو هیوادونو کښې اسلامي حرکتونه چې له اسرائیلو سره یې د جهاد غوښته کوله وټکوي او له بلې خوا له اسرائیلو سره د روغې جوړې د داسې فضا په پیداکولو کښې مرسته وکړي چې داستعماري هیوادونو د ګټود خوندي ساتلو په لارکښې مؤثر اواغیزمن ثابتیدای شي . د عربو په اصطلاح مترقي رژیمونو هم ددې په عوض چې د عربو یووالي ته ارزښت ورکړي خپلو تولنیزو اهدافوته یې اهمیت ورکاوه اوهمدې لامل هغوی ته دا زمینه برابره کړه چې په تدریج سره دوی هم د اسرائیلو د سازش دام ته ور تیل وهل شي .

دې اړه له عربي هیوادونو سره د بیلابیلو خبرو پلوی کوله په داسې حال کښې چې د شیمون پرز په مشرۍ دکار ګر ګوند د منځني ختیځ د سولې له پاره د بین المللي کنفرانس له طرحې نه ملاتړ کاوه .

وروسته له هغه چې د اسرائیلو د پولو امنیت تأمین شو او د عربي هیوادونو له لورې د خطر ویره له مینځه ولاړه ، یوانځنې خطر چې د اسرائیلو امنیت په خطر کښې اچوه د هغو فلسطینیانو چریکي عملیات ؤ چې د لبنان له خاورې به د اسرائیلي پوځیانو په ضد سرته رسیدل . اسرائیلو ددغه کار د مخنیوي له پاره په ۱۹۸۲ میلادي کال کښې په لبنان پراخ برغل وکړ اوتربیروت پورې یې ددغه هیواد ټولې جنوبي سیمې ونیولې خو د لبنان مسلمانان د اسرائیلو ددغه برغل په مقابل کښې لاس تر زنې کښیناستل اونورو اسلامي حرکتونو د برغلګرو قواؤ مقابلې ته ملاوتړله چې په

دمسلمانانولومړی قبله « بیت المقدس »

کله چې د ۸۰ لسیزې په پیل کښې په افغانستان باندې روسانو برغل وکړ اود ایران شاهي حکومت هم رنګ شو امریکا په دې فکر کښې شو چې باید د اسرائیلو اوعربو د جګړو جبهې وتړي اوخپل ټول ځواك په عربي هیوادونو کښې د اسلامي خوځښتونو د ځپلو په لاره کښې په کار واچوي .

له بلې خوا کله چې د « برغل اوتثبیت » د استراتیژۍ عمر پای ته ورسید د اسرائیلو له پاره ډیره غټه مسئله د امنیت تأمینول ؤ . د اسرائیلو د مشرانو په نظر کومو خطرونو چې دهغوی امنیت له خطر سره مخامخ کاوه په دری برخو ویشل کیږي : ۱- عربي دولتونه ۲ : - هغه چریکي ډلې چې د پولو له بهرنه به یې په اسرائیلو برغلونه کول . ۳ : - هغه چریکي ډلې چې د نیول شویو ځمکو په داخل کښې یې د اسرائیلو په مقابل کښې د مبارزې بیرغ اوچت کړي او هم فلسطینیانو هغه ستره برخه چې د اسرائیلو په ټولنه کښې یې د منحل کیدو مخالفت کاوه .

د عربي ګاونډیو هیوادونو د ګواښونو په لرې کولو کښې د اسرائیلو سیاست خپل لومړنی بریالیتوب د کمپ دیوید په تړون کښې وآزمویه اوله شاه‌حسین سره یې د پټو اوټیټ پرکو خبرو په لاره اچولو سره دغې پروسې ته دوام ورکړ . د اسرائیلو د حاکمیت مختلفو اړخونو په دې وروستیو وختونو کښې دغه هدف ته د رسیدو له پاره متفاوتي کړنـــــــــــــــودې تـــــــــــــــعقیب کړې . د لیکود ښې لاسي ډلې په

نتیجه کښې صهیونیستان دې ته اړشول چې لبنان خوشې کړي اوخپل ځواکونه له دغه هیواد نه وباسي خود چریکي عملیاتو د مخنیوي له پاره یې د لبنان د جنوبي سیمو یوه څو کیلومتري تر لپه چې د اسرائیلو له شمالي برخو سره نښتې وه ، د امنیتي کمربند په توګه په خپله ولکه کښې وساتله . په لبنان باندې د اسرائیلو دغه برغل د فلسطین د سازمانونو سیاسي او نظامي تشکیلات پېچلي کړل اوفلسطینیان یې په دوه ؤ پړاوونو کښې په پراخه توګه له طرابلس اوبیروت نه وایستل .

د کمپونو جګړې ، په لبنان کښې د فلسطیني عناصرو هغه جګړه چې د اسرائیلو په مقابلو کښې به یې کوله یې الغیزې کړه اود فلسطیني کمپونو پرضد د « تبه بری » په مشرۍ د آمل د ملیشه ؤ برغل د قاهرې د قرارداد په لغو کولو منجر شو. ددغو قراردادونو په اساس فلسطیني چریکانو کولای شول چې صهیونیستي دښمن سره د جګړې له پاره د لبنان په کورنیو چاروکښې له لاس وهنې پرته په دغه هیواد کښې په آزادانه توګه له ځان سره وسله وساتي .

په دې توګه د لبنان جنوبي سیمه چې د اسرائیلو له غاصب رژیم سره دفلسطیني مبارزینو د مبارزې یواځنۍ مخامخ سنګر ؤ ، ددغو مبارزینو پرمخ وتړل شو . له دې وروسته چریکانو یواځې دوه لارې په مخ کښې درلودې : لومړی داچې د اسرائیلي هدفونو پرضد

دروسیی اقتصادغربی رنګ اخلی

« احمد فهیم »

دمسکو وروستیو بدلونونو دلویدیځو هیوادونو له اقتصاد سره دروسیي داقتصاد دیوشان کیدلو بهیر چټک کړیدي .

داوو صنعتي هیوادونو مشرانو په خپله وروستي غونډه ، کي چي په لندن کي جوړه شوه پتیېلي وه چي دمسکو غړیتوب دپیسو په بین المللي صندوق « نړیوال بانك »کي ومني ترڅو پدي توګه دواړه مؤسسي وکولاي شي په اقتصادي برخه کي له روسیي سره مرستي وکړي .

پدغه کنفرانس کي چي داوو صنعتي هیوادونو دمشرانو اوه لسم کنفرانس وو او ګوربه چف دلړي ځل له پاره په هغه کي ګډون کړي وو ترڅو دخپل هیواد مشکلات وړاندي کړي اومالي مرسته لاسته راوړي بو له هغو تصمیمونو څخه چي دلویدیځ اقتصاد له مدار سره دروسیي داقتصاد دیوشان کولو په مقصد ونیول شو دغه ماده وه چي نورسازمانونه لکه داقتصادي همکاریو سازمان او داروپا دپراختیا اوبیا رغوني سازمان چي په غرب پوري تړلي دي هڅوي چي دروسیي داقتصاد دملاتړ له پاره هلي ځلي وکړي او خپلي ګټوري مشوري او تجربي دهغوي په واك کي ورکړي .

پدېبرخه کي په غیر پوځي شیانو باندي دغه راز تپاکل شوي وه چي زیاتي تکنولوژیکي مرستي په تیره بیا دانرژي ، دپوځي صنایعو دبدلولو ، اوپه هسته اي لحاظ دخوړو او امنیت دوضعي او حالت دښه کولو په باب دروسیي په واك کي ورکړي .

دغه راز ویل شوي وو چي دروسیي دسوداګري او تجارت دفعالولو لپاره په تیره بیا نورو هیوادونو له هغي جملي نه دختیځي اروپا هیوادونو ته چي بازارونه یي تقریباً په شوروي کي دجوړوشویو شیانو په مخ تړل شوي وو دروسیي دصادراتو درواجولو لپاره زیات فعالیت وشي .

پدي کنفرانس کښي موافقه شوي وه چي داوو صنعتي هیوادونو داقتصاد وزیران دي له دوو تنو نورو ناظرو وزیرانو سره دروسیي داقتصاد دڅیړني او دتخصصي نظریاتو دوړاندي کولو لپاره مسکوته سفر وکړي .

